# پر امانې دورې دپوهاندکاکړ
# کتاب ته یوه کتنه

داکتر عبدالرحمن زمانی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رسالې پېژندنه


د رسالې نوم: پر اماني دورې د پوهاند کاکړ کتاب ته یوه کتنه

مؤلف: ډاکتر عبدالرحمن زماني

ناشر: د مُسکا خپرندویه مؤسسه

تاریخ چاپ: ۱۳۹۴ لمریز / ۲۰۱۵ میلادی

معلومات: Muskaapublishing@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمطالبو فهرست

**سریزه** ........................................................................ 3

**د کاکړ صاحب د کتاب نوې منبع یا سرچینه**............................... 5

**د ډاکټر کاکړ دا منبع د انګریزانو د استخباراتو یو رپوټ دئ** ............... 7

**پر منشي علی احمد خان ورتپل شوې رپوټ دشیخ محبوب علی دئ**... 11

**د غزنی د مومندو میرزا علی احمد خان نه خو د دربار منشی ؤ او نه هم د دقیقو معلوماتو خاوند** .............................................. 14

**نوې کتنه او که د انګریزانو له فتنو ډکو تبلیغاتو په پلویتوب تکراري خبرې؟** 17 ........................................................................

د امانی رژیم پر وړاندي د انګریزي دسیسو او توطئو څخه مطلق انکار: .................................................................. 18

د اماني نهضت د ناکامیدو پړه په خپله غازی امان الله خان او افغانانو په غاړه اچول.................................................................. 19

دمحمد ولی خان دروازی، غلام صدیق خان څرخی او دانګریزانو نورو مخالفو شخصیتونو بدنامول او پر هغوې د غازي امان الله خان سره د خیانت تور لګول:........................................................ 20

د حقایقو او واقعیتونو د پټ ساتلو هڅې..................................... 20

**په تاریخ کې د سترې جعل کارۍ کوچنۍ بیلګې** ............................ 22

سرچینې........................................................................ 30

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دافغان جرمن انلاین په ویب پاڼه کې د لوستونکو د تبصرو اونظریاتو یوه برخه**................................................................. 32

له سویډن څخه محترم استاد سیستانی.................................. 32

له امریکې څخه محترم مهرپور فیض آبادی............................... 33

د امریکې څخه محترمه میرمن ملالی موسی نظام....................... 33

د جرمني څخه محترم زلمی کرزی ........................................ 37

د کالیفورنیا څخه داکتر سید عبدالله کاظم............................... 37

له هالنډ څخه محترم محمد ایاز نوری...................................... 39

له امریکې څخه محترم غزنوی غلزی ....................................... 40

له امریکې څخه محترمه میرمن ملالی موسی نظام...................... 41

محترم غزنوی غلزی ساکن امریکا ........................................ 42

له سویډن څخه محترم استاد سیستانی.................................. 44

له امریکې څخه محترم غزنوی غلزی....................................... 46

**دریمه برخه**: **پدې هکله د پوهانو مقالې**.................................... 48

ګرانو هیوادوالو ، د ډاکتر کاکړ کتاب د خپل د مأخذو فهرست څخه ایسته کړی !..................................................................... 48

نام رستم به از رستم............................................................ 58

باید در انتظار جواب پوهاند صاحب کاکر باشیم........................ 61

شناخت من از شاغلی داکتر صاحب کاکر ................................ 66

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

محترم پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ، دکابل پوهنتون د تاریخ پخوانې استاد او سپین ږیرې مشر ته د هغوې ځینو شاګردانو دنومیالي افغان مؤرخ خطاب ورکړې اوځینو هم د هیواد د معاصر تاریخ د متخصص په نامه یادکړیدئ.

ما د۲۰۱۲ م کال دجنوري دمیاشتې په اوه ویشتمه نیټه دکلیفورنیا په شمال کې دافغاني کلتوري ټولنې په نوبت هغې غونډې کې چې د پوهاند صاحب حسن کاکړ په ویاړ جوړه شوې وه، ویلي وو چې «زموږ په ګران هیوادافغانستان کې لکه د اروانباد احمد علي خان کهزاد ، میرغلام محمد غبار او پوهاند عبدالحی حبیبی په شان ستر مؤرخین تیر شویدي. خو کاکړ صاحب یواځینې کس دئ چې په تاریخ کې عالي علمي زده کړې لري، او پی ایچ ډي (دکتورا ) یې پکې آخیستې ده، دوې د تاریخ د استادئ دنده هم پر مخ بوولې او د هغو لږو کسانو په ډله کې هم دئ چې هم یې دافغانستان د خارجه چارو د وزارت د آرشیف او هم دافغانستان دملی آرشیف د لټولو چانس درلودلې، د انګلستان د بریتانوي هند آرشیف خو بهلا نه یادوم. او تر ټولو مهمهلا دا چې اوس خو د مستبدو او مطلق العنانه رژیمونو د تهدید او سانسور ویره هم نشته، نو ځکه هیله لرم چې په نژدې راتلونکې کې د دوې په قلم د افغانستان دمعاصر تاریخ په ډیرو تیارو برخو رڼا واچول شي».

(c) ketabton.com: The Digital Library

«دپاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه» د پوهاند صاحب د هغه کتاب نوم دئ چې په ۱۲۲ مخونو کې په ۲۰۰۵ میلادي کال کې په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې د ټولنې په همت، او په پیښور کې د دانش خپرندویې ټولنې د تخنیکي څانګې لخوا چاپ شویدئ.




د دغه لیکنې په تړاو دپوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ کتاب

د کتاب محترمه خپرندویه ټولنه د کتاب په پیلامې کې د یادښت په توګه د دغه کتاب د اهمیت په هکله لیکلي چې «د استاد کاکړ "د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه " داسې یو اثر دئ چې د اماني دورې په هکله د یو شمیر نویو منابعو په رڼا کې ډیر نوي ټکي هم د تاریخ څیړونکو ، شاګردانو او مینه والو مخې ته ږدي. دغه اثر په افغاني تاریخي څیړنو کې یوه په زړه پورې اضافه ده».

زه پدغه لنډه لیکنه کې د محترم کاکړ صاحب د دغه کتاب محتوی ته لنډه کتنه کوم، او ګورو چې ددوې د دغه کتاب دنوم او محتوی تر منځ څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفاوت موجود دئ؟ ددوې په وينا دغه نوې کتنې کې څه شئ نوي دي؟ د واقعياتو او تحريفاتو په ګډولو (يوځاې کولو) سره څنګه تاريخي پېښو ته جعلي روايات جوړيږي، او په پاې کې په تاريخ کې د درواغو د ثبتولو دپاره په موجودو منابعو او اسنادو کې څرنګه لاسوهنه شوې ده.

## د کاکړ صاحب د کتاب نوې منبع يا سرچينه

مخکې لدې چې د پوهاند صاحب کاکړ د کتاب نورو اړخونو ته لاړ شم، د تاريخي ليکنو د سرچينو د اهميت په نظر کې نيولو سره به لومړې د دوې د دغه کتاب تر ټولو مهمې سرچينې باندې غږيږم. زه په پوره ډاډ سره ويلاې شم چې ډاکټر صاحب کاکړ د تاريخ ديوه استاد او مؤرخ په توګه په تاريخ ليکنه کې د اسنادو او مدارکو د سموالي او کره توب په اهميت تر بل هر چا ډير ښه پوهيږي. ماته د هغوې هغه وينا هم ډيره ښه په ياد ده چې په شمالي کليفورنيا کې د افغاني کلتوري ټولنې په يوه محفل کې يې د محترم انجينير صاحب وکيل متين او زما د «جنګ استرداد استقلال افغانستان، جبههٔ فراموش شدهٔ چترال و کنر (حقايق نهفته و حرف هاى ناګفتهٔ جبههٔ چهارم) د کتاب د مخ کتنې په مناسبت کړې وه:

«تاريخ چې تر څو په ښو ثقه معلوماتو باندې بنا نه وي، هغه (کې) حقيقت ته رسيدل بيا مشکل وي. تاسې داسې وګنئ چې يو ختګر که غواړي يو تعمير جوړ کړي، هغه اصلي مواد چې ورسره نه وي، هغه تعمير شوړيږي. په بل عبارت سره د تاريخ ليکلو دپاره لومړې شئ ضروري ثقه مواد دي، او ډاکټر صاحب ډير کوشش کړی...».

کاکړ صاحب د خپل دغه اثر د سرچينو او اسنادو په هکله د خپل کتاب په سريزه کې ليکلي چې «د پاچا امان الله د واکمنۍ په اړه په انګريزي او فارسي کې ليکنې ډيرې دي. دلته ما له هغو ليکنو نه کار اخيستی، چې د هغه وخت کسانو کښلي لکه د منشي علي احمد د پاچا امان الله لويد نه، د فيض محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاتب کابل تر محاصرې لاندې، د میر غلام محمد غبار افغانستان در مسیر تاریخ،.. » (۲ مخ).

کاکړ صاحب د خپلې لومړنۍ سرچینې د اهمیت په هکله، په خاصه توګه دیوې نادرې نسخې په اهمیت چې له لندن څخه ورته ښاغلي ډاکتر عبدالعلي ارغنداوي استولې ده، داسې ټینګار کوي چې ګواکې « منشي علي احمد ، د امان الله نسکوریدنه، د برتانیې د حکومت خپرونه، لندن، ۱۹۲۹، ۳ لیکونکې د غزني مومند ، او د امان الله د دربار منشي او د معلوماتو خاوند و. د ده د امان الله د دورې په فارسي کې دغه لیکنه د سکاټ په نامه یوه انګریز په انګریزي اړولې او اوس په لندن کې په برتانوي کتابتون کې خوندي ده. په دغې لیکنې کې د امان الله د واکمنۍ په هکله دغسې دقیق معلومات شته، چې په نورو اثرونو کې نه موندل کیږي » (۱۵۴ مخ).

په دغه کتاب کې ددغه نوې منبع پر اهمیت او داچې لیکونکې یې د امان الله خان د دربار منشي او طبعاً د اماني دورې په هکله د لومړي لاس او مهمو معلوماتو خاوند وو ، ځو- ځو ځله اشاره او ټینګار شوې، بلکې تر شلو ځلو زیات ترې مطالب نقل شویدي.

دلته د یادونې وړ ده چې د اماني دورې د تاریخ سره زما د بې کچې مینې او تندې له امله ځو کاله مخکې زه د کاکړ صاحب سره ددغه سند په موجودیت خبر او د هغوې سره د ښو اړیکو او کتابونو او اسنادو د تبادلې د سابقې په نظر کې نیولو سره ډاده وم، چې زما هیله به ومني او دا سند به د لوستلو دپاره راکړي. خو جناب کاکړ صاحب نه یوا ځې دا چې ماته ددغه سند دکاپي کولو ، او یا دهغوې په موجودیت کې د لوستلو اجازه رانکړه، بلکې د حیرانتیا خبره خو لا دا وه چې ماته یې د هغه دښودلو څخه هم ډډه وکړه. زه د محترم کاکړ صاحب په دغه رویې لومړې متاثره شوم، خو بیا مې د ځان سره فکر وکړ چې خیر دئ، ځینې کسان غواړي چه مهم اسناد یوا ځې د هغوې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

انحصار کې اوسي، خو د دغه مهم اثر د پیدا کولو تلوسه مې لا نوره هم زیاته شوه. په پای کې زه بریالۍ شوم چې د خپلو څېړنیزو کتابونو د پاره د اسنادو د پیدا کولو په لړ کې د بریتانوي هند د ارشیف څخه د نورو اسنادو په ترڅ کې دا اثر هم لاسته راوړم، او کاکړ صاحب ته یې هم وښایم، او پر هغوی یې تصدیق کړم چې «هو ! دا هماغه لیکنه ده» .

زه د دغه اثر په لوستلو سره د کاکړ صاحب د دغه غیر عادي چلند په راز پوه شوم، او پوه شوم چې دا آشنا لیکنه مې څو کاله د مخه د انګلستان په آرشیف کې کتلې وه. او دا راته ثابته شوه چې دا لیکنه نه یوا ځې د منشي علي احمد خان نه ده، بلکې منشی علی احمد خان هم هیڅ وخت د غازی امان الله خان منشی نه وو او د خپریدو کال یې هم د ۱۹۲۹ پر ځای ۱۹۳۰ م کال، او د خپریدو ځای یې هم لندن نه بلکې د هندوستان ډیلې وو.

**د ډاکټر کاکړ دا منبع د انګریزانو د استخباراتو یو رپوټ دئ**

هو ! هغه لیکنه چه کاکړ صاحب پرې د خپل کتاب تر ټو د معتبرې، نادرې او مهمې سرچینې په توګه استناد کوي، او د غازي امان الله خان د دربار د منشی (؟) د غزني د مومندو د علي احمد خان په نوم یې یادوي، The Fall of Amanullah یا د امان الله سقوط نومیږي ، چې د خپریدو کال یې ۱۹۳۰ م کال دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ليکنه د افغانستان او د هغې د پولو (سرحدونو) په هکله د انګريزي استخباراتو د پټو اسنادو د دوسيو په فهرست کې چې اوس له محرميته راوتلي او يوه برخه يې د څېړونکو پر مخ پرانيستل شوي، په لاندې ډول پېژندل شويده:

**The fall of Amanullah.**
Translated from the Persian of Shaikh Ali Mahboub by Maj Robert Noel Girling Scott

Foreign & Political Department, Mar 1930
***Physical description:*** [2], 61p. map, 33cm.
***File number:*** L/P&S/20/B289
***Notes:*** Secret
Delhi: Government of India Press, 1930

## د امان الله سقوط

د شيخ علي محبوب د فارسي څخه
د تورن رابرت نوئل ګيرلينګ
سکاټ ژباړه
د باندنيو او سياسي چارو څانګه،
د ۱۹۳۰ کال د مارچ مياشت
فزيکي مشخصات: ۲۱ پاڼې او نقشه
د دوسيې نمبر L/P&S/20/B289
يادونه: پټ (محرم)
ډيلي، د هند د حکومت چاپځای. ۱۹۳۰






(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لیکنه چې د پوهاند کاکړ او نورو لخوا په جعلي توګه د غازي امان الله خان د دربار پر جعلي منشي باندي تپل شوې، دافغانستان د خپلواکۍ د ګټونکي غازي امان الله خان پر وړاندې د انګریزي ډیرو تخریبي تبلیغاتو سرچینه، (۲۱) مخه لري، او دغزني او د هغې د شاوخوا سیمو یوه هغه نقشه هم پکې ځاې پر ځاې شوې چې په بریتانوي هند کې د انګریزانو استخباراتي مامورینو جوړه کړیده.

دا لیکنه په لسو برخو کې تنظیم شویده چې لومړۍ برخه کې یې د سر خبري، دوهمه کې دافغانستان د پرمختګ دپاره د غازي امان الله خان اصلاحاتو، دریمه برخه کې اروپا ته د غازي امان الله خان سفر او هغه پیښې چې په دغه موده کې شوي، څلورمه برخه کې د سفر نه د غازي امان الله خان راستنیدل و د لویې جرګې جوړول، پنځمه برخه کې د اغتشاشاتو عوامل، شپږمه برخه کې د شینوارو اغتشاش، پر کابل د حبیب الله کلکاني حمله او قندهار ته د غازي امان الله خان روانیدل، اومه برخه کې د کندهار پیښې ، اتمه برخه کې قندهار ته د عنایت الله خان رسیدل، د مقر پیښې او هرات ته د تګ تیاری، نهمه برخه کې د غازي امان الله خان په چارو کې د روسیې او ایران دلچسپي، او لسمه برخه کې د غزنی پر لورې د غازي امان الله خان پرمختګ او بیا د افغانستان نه وتل راغلي دي.

د افغانستان په هکله په لندن کې د بریتانوي هند په دفتر پورې مربوط د انګریزانو په آرشیف کې د موجودو اسنادو په لړ کې پر محرمانه رپوټونو، مکتوبونو، تلګرامونو او ورځنیو استخباراتی رپوټونو سربیره چې د څیړونکو او مؤرخینو دپاره اهمیت او تاریخي ارزښت لري، د لارو، پولو، اشخاصو او قامونو، او کلنیو رپوټونو په شان داسې اسناد هم شته چې د انګریزي استعمار دپاره یې سوق الجیشي ارزښت درلود.

البته د څو کلنو رپوټونو په ترڅ کې دا د آرشیف یوا ځینې رپوټ هم ندئ. په لاندني جدول کې دا ډول ګڼ شمیر رپونه شامل دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د بریتانوي هند د انګریزي مسلمانو ایجنټانو او مأمورینو لخوا د ۱۹۰۷ او ۱۹۴۱ کلونو ترمنځ دجوړو شوو رپوټونو څو بېلګې | |
|---|---|
| Final report on Afghanistan by Fakir Saiyid Iftikhar-ud-Din, British Agent at Kabul. [Government of India Foreign Department], 1907-1910. | په کابل کې د انګریزانو د ایجنټ فقیر سید افتخارالدین لخوا د افغانستان په هکله وروستنۍ رپوټ [د هند د حکومت د باندنیو چارو دفتر]، ۱۹۰۷ تر ۱۹۱۰. |
| Final report on Afghanistan by Malik Talib Mehdi Khan, British Agent at Kabul, [Government of India Foreign Department], 910-1913. | په کابل کې د انګریزانو د ایجنټ ملک طالب مهدي خان لخوا د افغانستان په هکله وروستنۍ رپوټ [د هند د حکومت د باندنیو چارو دفتر]، ۱۹۱۰ تر کلونه۱۹۱۳. |
| Précis on Afghan affairs. Lt-Col Charles Joseph Windham, Indian Army [Government of India Foreign & Political Department]. | د ډګرمن چارلس جوزیف ویندهم لخوا د افغانستان د چارو لنډیز [ د هند د حکومت د باندنیو او سیاسي چارو دفتر]. |
| A précis on Afghan affairs from February 1919 to September 1927. Compiled by Richard Roy Maconachie Foreign and Political Department, Government of India. | د ۱۹۱۹ کال د فبروري څخه د ۱۹۲۷ کال د سپتمبر پورې د ریچارد مکوناچی لخوا راټول شوي د افغانستان د چارو لنډیز [د هند د حکومت د باندنیو او سیاسي چارو دفتر]. |
| Summary of events in Afghanistan 1st July 1928 to 30th Jun 1929. Compiled by the General Staff. | د هند د حکومت دپوځي قوماندانۍ لخوا د ۱۹۲۸ د جولاې د لومړۍ نیټې څخه د ۱۹۲۹ کال د جولاې تر ۳۰ مې نیټې پورې د افغانستان د پېښو لنډیز. |
| The fall of Amanullah. Translated from the Persian of Shaikh Ali Mahboub by Maj Robert Noel Girling Scott Foreign & Political Department, Mar 1930. Delhi: Government of India Press, 1930. | د امان لله سقوط، د شیخ علي محبوب د فارسي څخه د تورن رابرت نوئل ګیرلینګ سکاټ ژباړه، د باندنیو او سیاسي چارو څانګه، د ۱۹۳۰ کال د مارچ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| | میاشت. ډیلي، د هند د حکومت چاپځای . |
| Review of events in Afghanistan 1st July 1931 to 30th June 1932. Compiled by the General Staff. Simla: Government of India Press, 1932. | د ۱۹۳۱ د جولاې د لومړۍ نیټې څخه د ۱۹۳۲ کال د جون تر ۳۰مې نیټې پورې د هند د حکومت دپوځي قوماندانۍ لخوا راټول شوی د افغانستان پیښو ته کتنه. |

که چیرې دتل په شان د پوهاند کاکړ صاحب دا ادعا رښتیا وي چې په انګلستان کې یې د خپلې اوه کلنې زده کړې په موده کې د انګریزانو د آرشیف څخه ګټه اخیستې او د دغو دوسیو دومره دوړې یې تنفس کړي چې سږي یې لا تر اوسه خوږیږي، نو بیا خو به ددغو آثارو په موجودیت هم خبر وي، او دا به ورته معلومه وي چې د امان الله خان د سقوط یا پریوتنې لیکنه د منشي علی احمد خان نه ده، بلکې د شیخ علي محبوب د فارسي څخه د تورن رابرت نوئل ګیرلینګ سکاټ هغه ژباړه ده چې د باندنیو او سیاسي چارو د څانګې لخوا د ۱۹۳۰ کال د مارچ په میاشت کې په ډهلې کې خپره شویده.

**پر منشي علی احمد خان ورتپل شوې رپوټ دشیخ محبوب علی دئ**

انګریزي مأمورین په افغانستان کې په خپل سفارت او قونسلګریو کې د نورو دندو په څنګ کې د استخباراتي معلوماتو د راټولولو په پراخه عملیاتو هم بوخت وو. په اماني دورې کې په کابل کې د انګریزانو سفیر، فرانسیس همفریز (Sir Francis Humphrys)، د امانی رژیم پر وړاندې د انګریزي دسیسو او توطئو په جوړولو کې خورا ستره برخه درلوده. همفریز تر هغه دمخه د۱۹۰۴ او ۱۹۱۷ کلونو په ترخ کې د شمال لویدیځ د سرحدي صوبې (ایالت) په بیلابیلو چوکیو کار کړې او په ۱۹۱۸ کال کې یې د یو څه وخت دپاره په هندوستان کې د بریتانوي نوې جوړې شوې هوایې قواکې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمت کړې ؤ. هغه بیا وروسته د خیبر ایجنسۍ د پولیټیکل ایجنټ او د بریتانوي هند د باندنیو چارو د وزارت د مرستیال دندې پر مخ بیولي اود افغانستان چارو او افغانانو خصوصیاتو سره ښه آشنا ؤ.

همفریز د افغانستان د خپلواکۍ او د ۱۹۲۱ کال د نومبر د ۲۲ مې نیټې د معاهدې نه وروسته په کابل کې د انګریزانو دلومړني سفیرپه توګه و ټاکل شو او د ۱۹۲۲ کال د جنوري د ۲۷ مې نیټې څخه وروسته د غازي امان الله خان



سفیر همفریز، د ختیځو چارو د سکرتر شیخ محبوب علی او په کابل کې د انګلستان د سفارت یو شمیر نورو غړو سره

د حکومت تر پای او د انګریزي د سیسو تر بریالیتوبه هلته ؤ. د همفریز میرمن هم په شمال لویدیځ سرحدي ایالت کې د انګریزانو د لومړني او مشهور عمومي کمیشنر «هیرالد دین» لور وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ محبوب علی د سفیر همفریز تر ټولو زیات فعاله هندوستاني مأمور ؤ، چې د همفریز په شان يې د بریتانوي هند په سیاسي چارو کې زیاته تجربه درلوده، او په کابل کې یې د انګلستان په سفارت کې د ختیځو چارو د سکرتر او مستشار په نامه هره میاشت د استخباراتي فعالیتونو د پاره شپږ زره (۲۰۰۰) هندي روپۍ مصرفولي چې دا هغه وخت ډیرې زیاتې پیسې وې.
(۱) د استاد فضل غنی مجددی په وینا حضرت صاحب محمد صادق مجددی لیکلي دي چې په کابل کې د انګلستان د سفارت د شرقي چارو سکرتر د حبیب الله خان [کلکانی] سره هم اړیکي درلودلی، او د ۱۹۲۸ کال د دسمبر په میاشت کې یې د انګلستان د سفارت په روغتون کې د هغه د



د ختیځو چارو سکرتر شیخ محبوب علی وروسته د پولیټیکل ایجنټ په توګه د آزادو قبایلو په منځ کې

ټپونو علاج کړې ؤ. (۲)

په جلال آباد او قندهار کې د انګریزانو قونسلانو هم د شیخ محبوب علی د لاس لاندې د انګریزانو د سیسو په پلي کولو کې کار کولو، چې په دوې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شینوارو د اغتشاش په دوران کې د جلال آباد قونسل جهانګیر خان ډېر مهم او حساسه رول درلود.

لکه چې د انګلستان د آرشیف د اسنادو څخه ثرګندیږي، د «امان الله د سقوط» په نامه رپوټ، چې د پوهاند صاحب کاکړ د کتاب یوائیني نوې او بیا تر ټولو مهم مأخذ دئ، د شیخ محبوب علی لیکنه ده، او دغه لیکنه په غلطه توګه په منشي علي احمد خان ورتپل شوې ده.

اوس چې مو د انګریزانو د استخباراتو د رپوټ اصلي لیکونکې، شیخ محبوب علی خان، وپیژندو، راشئ چې ووینو دا منشي علي احمد خان چې کاکړ صاحب یې د غازي امان الله خان د دربار منشي بولي څوک ؤ، او تر کومه حده یې معلومات سم او د ډاډ وړ کیدای شي.

## د غزنی د مومندو میرزا علی احمد خان نه خو د دربار منشی ؤ او نه هم د دقیقو معلوماتو خاوند

د بریتانوي هند د آرشیف د اسنادو د «څوک څوک دئ؟» یا Who is who? د دوسیې په اساس میرزا علی احمد خان د فقیر احمد خان ځوې د غزني اوسیدونکې د اماني دولت په لومړیو وختو کې د ګمرک د څانګې یو قراردادي ؤ، وروسته یې د غزني د حاکم د شخصي منشي په توګه دنده سر ته رسوله، او تر هغې وروسته بریالې شو چې په وار سره د جلال آباد، مزار او قندهار نائب الحکومه سره د نهو کلونو دپاره د منشي وظیفه سر ته ورسوي. میرزا علی احمد خان په اماني دورې کې کله چې غازی امان الله خان د قندهار د چارو څخه کتنه وکړه، د اعلیحضرت لخوا تقدیر او د ستور نښان تر لاسه کړ او وروسته د قندهار د سرحداتو مامور وټاکل شو.

میرزا علی احمد خان یوائې په هغه موده کې چې د سقوي اغتشاش په نامه مشهوره شوې، هغه وخت چې غازی امان الله خان قندهار ته لاړ او هلته د شورا د منشی په توګه وټاکل شو او د افغانستان څخه د غازي امان الله خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر وتلو پورې ، يوائې د ځو محدودو مياشتو دپاره، دا وظيفه سرته رسوله .

د پيښې جريان داسې ؤ چې غازی امان الله خان د خپل لږ شمير وزيرانو او مشاورينو سره د ۱۳۰۷ کال د جدي د مياشتې په ۲۴مه نيټه (د ۱۹۲۹ کال د جنوري په ۱۴ مه ) قندهار ته لاړ او د خپل ورور سردار عنايت الله خان د سرنوشت تر معلوميدو پورې يې پرته لدې چې د خلکو سره تماس ونيسي، انتظار وويست. قندهار ته د عنايت الله خان په رسيدو سره دواړه ورونه د قندهار د ارگ په برنډه کې د قندهار او شاوخوا سيمو خلکو سره وکتل. غازي امان الله خان د وروستنيو پيښو د شرحې په ترڅ کې د کورنيو او باندنيو دښمنانو لخوا دهغه د اصلاحاتو نا سم تعبير، او د کورنۍ جگړې او بې گناهو خلکو د مرگ ژوبلې د مخنيوي په هيله د قدرت څخه د گوښه کيدو او عنايت الله خان ته د چارو د سپارلو په هکله وينا وکړه، او حاضرينو ته يې واک ورکړ تر څو د جهل او وحشت سره د مبارزې او نظم او امنيت د اعادې دپار د هغه او هغه د ورور تر منځه يو تن انتخاب کړي. د خلکو ليوالتيا بيا هم خپله امان الله خان ته وه، او سره لدې چې د هغه څخه يې يو څه شکايتونه او گيلې درلودې، بيا يې د هغه د واکمنۍ هرکلې وکړ، او هغه ته يې د خپل ملاتړ اطمينان ورکړ.(۳)

د هغې په سبا، پاچا په سلامخانه کې يو مجلس جوړ او خپله نوې کابينه وټاکله چې په هغې کې عبدالعزيز خان ته د حربيې د وزارت مسئوليت او غلام صديق خان څرخی ته دباندنيو چارو د وزارت مسئوليت ورکړل شو. ميرزا محمد عمر خان هم د حضور دمنشی او ميرزا علی احمد خان مهمند دشورا د منشی په توگه وټاکل شول. د کورنيو چارو وزير عبدالاحد خان، مأمورينو او خلکو ته د امان الله خان د بيا پاچاکيدو او سردار عنايت الله خان د استعفا خبر ورکړ. د دولتې ادارو نوي تشکيلات جوړ او د هغو د بودجې په تصويب کولو سره د حکومت څرخونو بيا حرکت او فعاليت پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ. د باندنیو چارو وزیر، غلام صدیق خان څرخي، هم د تلګراف په ذریعه د افغاني سفارتونو له لارې دنیا ته د غازي امان الله خان د بیا پاچا کیدو خبر ورکړ.(۴)

وروسته له هغې چه غازی امان الله خان له قندهار او افغانستان څخه ووت، میرزا علی احمد خان هم د خپلې کورنۍ سره کوټې ته لاړ. هغه په ۱۹۳۰ کال کې بیرته کابل ته راستون شو او تر ۱۹۳۵ کاله پورې په غزني کې بیکاره اوسیدو، د ۱۹۳۶-۱۹۳۷ کلونو تر منځ یې په غزني کې د عسکري قواوو د آذوقې قرارداد درلود. د ۱۹۳۸ کال د سپتمبر په میاشت کې د دولت د مخالفو سلیمانخیلو سره د ملګرتوب په شک تر څارنې لاندې ؤ، او په پای کې په ۱۹۳۹ کال کې د کار موندلو دپاره کابل ته لاړ او د یوه مخور په سپارښتنه د فوائد عامې په څانګه کې مقرر شو.

څرنګه چې میرزا علی احمد خان یواځې د یوې لنډې مودې دپاره مخکې لدې چې غازي امان الله خان هیواد پریږدي، په نوو تشکیلاتو کې د شورا د منشي په توګه وټاکل شو، نو جناب پوهاند صاحب کاکړ دا دعوه نشي کولای چې هغه به د امانی دورې په هکله د کره او زیاتو معلوماتو خاوند وي. یواځې امکان لري چې شیخ محبوب علی خان د خپل رپوټ په یوه برخه کې، هغه هم د ۱۹۲۹ کال په لومړیو میاشتو کې د قندهار، غزنی او مقر په پیښو کې د میرزا علی احمد خان د معلوماتو څخه چې شخصاً هلته حاضر ؤ، استفاده کړې وي.

نو د پورتنیو معلوماتو په رڼا کې د ډاکټر صاحب کاکړ د کتاب د تر ټولو نوي او معتبر مأخذ په هکله دې نتیجې ته رسیدلې شو چې د هغوې د ادعا په خلاف:

- لومړې، دا لیکنه د منشي علي احمد خان نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دوهم، میرزا علی احمد خان نه خو د غازي امان الله خان د دربار منشی ؤ، او نه یې هم د خپل موقف په اساس کره او دقیق معلومات درلودلې شو.
- دریم، د کاکړ صاحب د ادعا په خلاف دا معلومات یوائې په هغه کتاب پورې منحصره ندي.
- څلورم، دا کتاب په حقیقت کې د انګریزانو د استخباراتو یوه لیکنه ده او د بریتانوي هند په دفتر پورې اړه لري.
- پنځم، د هغه اصلی لیکونکې شیخ محبوب علی خان، په کابل کې د انګریزانو په سفارت کې د ختیځو چارو سکرتر دئ.

څرنګه چې په د تاریخ لیکنې په اساساتو کې د معتبره او لومړي لاس اسنادو څخه کار اخیستل مهم دي، نو آیا کولې شو چې د امانی دورې په هکله د پوهاند صاحب کاکړ کتاب د اعتبار وړ وګڼو؟

آیا پر داسې لیکنو او اسنادو ولاړ د «پاچا امان الله واکمنی ـ ته یوه نوې کتنه» کتاب په ربښتیا هم د تاریخ څیړونکو، شاګردانو او مینه والو ته په افغاني تاریخي څیړنو کې یوه په زړه پورې اضافه ګڼلاې شو؟

**نوې کتنه او که د انګریزانو له فتنو ډکو تبلیغاتو په پلویتوب تکراري خبرې ؟**

هغه څه چې د جناب ډاکټر صاحب کاکړ «د پاچا امان الله واکمنی ـ ته یوه نوې کتنه» کتاب کې نوي ندي، هماغه د انګریزانو له فتنو ډک تبلیغات دي . کاکړ صاحب د تاریخي حقایقو پر ځاې، د نوې کتنې تر نامه لاندې، پرته له باوري اسنادو او مدارکو ، دیوه انګریزی ایجنټ د یوې لیکنې په استناد ، پر حقایقو او واقعیتونو د جعل او تحریف پرده غوړوي، او د اماني رژیم د لومړي درجه دښمن د تبلیغاتو په مرسته خپلې پیژندل شوې لیدلورې بیا تکراروي. دلته ستاسې پاملرنه څو بیلګو ته را اړوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اماني رژیم پر وړاندي د انګریزي دسیسو او توطئو څخه مطلق انکار :**

ډاکټر صاحب کاکړ د انګریزي دسیسو د اسنادو نه لیدل یا نه شتون، د دسیسو د نشتوالي دلیل ګڼي او وایې چې «ډاکټر ادمک چې خپل کتاب یې د برتانیې او هند د حکومت د رسمي پاڼو او راپورونو له مخې لیکلی دا سې کومه لیکنه نه ده لیدلې، چې انګریزانو به د پاچا امان الله په نسکورولو کې لاس لرلې وي» (۱۳۸ مخ). «په افغانانو کې تر اوسه هم اوریدل کیږي، چې د پاچا امان الله نظام د انګریزانو په توطیو سره نسکور شوی. منشی علی احمد په دې اړه وایي چې په خپله په افغانستان کې هغه علتونه چې د انقلاب سبب شول، د افغان مامورانو او درباریانو له خوا د برتانیې حکومت توطیو ته منسوب شوي دي. (هماغه ځای). «تر اوسه پورې دغسې لیکنه لیدل شوې نه ده چې د هغې له مخې به د پاچا (امان الله) په نسکوریدو کې د هند حکومت لاس لرلی وي» ( ۱۳۸ و ۱۳۹ مخونه).

ډاکټر صاحب کاکړ د خپل دغه دریځ څخه د دفاع په غرض ښنه اوږدوي او داسې استدلال کوي چې «د برتانوي هند او د برتانیې د حکومت سیاست دا نه و، چې د امان الله نظام دې نسکور شي، هغه هم د داړه مارانو له خوا چې په واک کیدو سره به یې افغانستان په حتمي ډول او هندوستان په احتمالي ډول ناارام وي» ( ۱۳۹ مخ). البته دا لومړې ځل ندئ چې ډاکټر کاکړ داسې استدلال کوي. هغه تر دې ښخوا هم ویلي چې زه تر اوسه داسې سند سره مخامخ شوې نه یم چې ځرګنده کړي انګریزانو د اعلیحضرت امان الله خان په نسکورولو کې لاس لرلې وي. هغه حتی دعوه کوي چې «..انګریزانو د امان الله خان ځکه ملاتړ (حمایت) کوو چې هغه د عصري کولو (پرمختګ) او ټولنې د مدني کولو پلوي ؤ» [1].

---

[1]. د امریکا غږ راډیو آشنا د پروګرام سره د ۱۳۸۶ کال د زمري د میاشتې د ۲۹مې (۲۰۰۷ میلادي کال د اګست د ۱۸ مې) نیټې په پروګرام کې د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو د اته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اماني نهضت د ناکامیدو پړه په خپله غازي امان الله خان او افغانانو په غاړه اچول

انګریزي استعمار سره له دې چې یو قوي افغانستان او غازي امان الله خان خپلې واکمنۍ او سیاسي، اقتصادي او پوځي ګټو ته لوی ګواښ ګانه، او د غازي امان الله خان د وژلو او له منځه وړلو د دسیسو او توطئو په څنګ کې یې د هغه د سلطنت د نسکورولو د پاره د هر فرصت څخه استفاده کوله، او په دې لاره کې یې د مذهبي مشرانو او دولت د مخالفینو د لمسولو او مرستې هیڅ کوښښ نه سپماوه، تل دا تبلیغ کړې دئ چې ګواکې د اماني رژیم د نسکوریدو اصلي سبب د اصلاحاتو د پروګرام د پیل کولو له امله د غازي امان الله خان اشتباهات وو، چې خلکو ته د منلو وړ نه وو.

ډاکټر کاکړ هم د خپل کتاب له پیله، د تاریخي حقایقو پرځای د انګریزانو دا تبلیغات سم ګڼي او د خپل کتاب د لومړنیو خبرو په لومړني پراګراف کې لیکي چې «دی (امان الله خان) هغه لومړی افغان واکمن دئ چې د ټولنې د مدني کولو او عصري کولو لپاره یې پراخ سمونونه پلي کړل او د هغو له امله له وطن نه وشړل شو» (۱۴ مخ). ګواکې دا د افغانستان باندني دښمنان او د هغوی داخلي ایجنټان نه، بلکې د افغانستان خلک وو، چې هغه یې د هیواد پریښودو ته مجبوره کړ. د یادونې وړ ده چې کاکړ صاحب په خپل کتاب کې بیا بیا غازي امان الله خان د انګریزانو په سبک او لهجه په سپکه تش د «امان الله« په نامه یادوي او د هغه په هکله د «وشړل شو» او «په پښو کې ورغړیدو» په شان داسې ژبه استعمالوي، چه د دغه ستر شخصیت په وړاندې د انګریزانو د نفرت او کرکې د انتها ځرګندونه کوي.

---

اتیاوم تلین په مناسبت د کابل او کلیفورنیا څخه د تاریخ د دوو کارپوهانو، استاد حبیب الله رفیع و ډاکټر کاکړ سره مرکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دمحمد ولی خان دروازي، غلام صدیق خان څرخی او دانګریزانو نورو مخالفو شخصیتونو بدنامول او پر هغوې د غازي امان الله خان سره د خیانت تور لګول:**

کاکړ صاحب پرته له کوم تاریخي معتبر سند او مدرک څخه، بیا هم د انګریزي ایجنټ د لیکنې په اساس د قضاوت پر ګدۍ کښیني اودغازي امان الله خان د نژدې ملګرو او انګریز دښمنو شخصیتونو د کرکټر د وژنې حکم صادروي او لیکي چې «غلام صدیق ا و محمد ولی د پروګرام له مخې په پټه د شینوارو او کوهدامن د داړه مارانو په لمسولو سره بې امنیتي واقعي کړي او د کابل د نسکوریدلو لپاره ډګر هوار کړو » (۱۳۲ مخ).

**د حقایقو او واقعیتونو د پټ ساتلو هڅې**

د ډاکټر صاحب کاکړ په دې کتاب کې د ضد او نقیض لیکلو زیاتو مواردو سره مخامخ کیږو. البته دا ضد او نقیض لیکل له دې امله نه دي چې مؤلف د مختلفو سرچینو او اړخونو څخه پر پیښو او روایاتو رڼا واچوي، بلکې داسې هڅه ده چې د ربښتیاو او دروغو په یوځای کولو سره د لوستونکي ذهن سرګردانه او مغشوش کاندي. مونږ د ګران هیواد په معاصر تاریخ کې داسې نور مثالونه هم لرو چې د همدې ډول تحریفاتو په نتیجه کې یې ډیر کسان د شخصیت پرستۍ، شاه پرستۍ او بیګانه پرستۍ په دام کې راګیر کړي دي .

یوې دوو بیلګو ته پاملرنه وکړی او خپله پرې قضاوت وکړی:

- ډاکټر صاحب کاکړ لومړې لیکي چې «...(غازي امان الله) په افغانستان کې د لومړي ځل دپاره ددغسې بنسټیزو سمونونو په پلي کولو پیل وکړ، چې په هغو سره افغان ټولنه مدني، سیاسي نظام عصري او د فرد خپلواکي واقعي کړي» (۱۳ مخ). هغه بیا هم په ۱۲۸ او ۱۲۹ مخونو کې د بیلابیلو آثارو په حواله یوځل بیا د ټولنې د مدني کولو اود سیاسي نظام عصري کولو ته ګوته نیسي د غازي امان الله خان په واکمنۍ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون د حاکمیت صفتونو ته ادامه ورکوي چې « د پاچا امان الله په څه لږ لس کلنۍ دورې کې هیڅ افغان د سیاسي نظر د څرګندولو له امله بندي شوی نه دی . دا چې په هغه وخت کې سیاسي ډلې له افراطي مفکورو سره فعالې وې، د همدغه آزادۍ له برکته و. پاچا امان الله دیوه پاک زړې واکمن په توګه د جاسوسۍ (استخباراتو ) له څانګې نه کار وانه خیست. ښځو ته د ځینو اساسي حقوقو په منلو سره پاچا امان لله د ټولنې د مدني کولو په لور یو بل مهم ګام پورته کړ. د ټولنې د مدني کولو په لور یو بل اساسي ګام د پوهنې عام کول وو ، چې پاچا ددغه نظر له مخې واخیستل شو ، چې "باید کوشش ما و شما در عالم بودن و دانسته شدن تمام افراد افغانستان باشد اگر چه مسلمان باشد یا هندو و یا دیگر کسې باشد " ده له پوهې او پوهنې او فن سره دغومره علاقمندي لرله، چې په کال ۱۹۱۴ کی یې د محمود طرزي له ثریا نومې لور سره د خپل واده لګښت د یوه ښوونځي د جوړولو لپاره خاص (وقف ) کړ».

خو ډاکټر صاحب کاکړ وروسته د غازي امان الله خان په هکله بل څه وایې او لیکي چې «هغه د امنیت د ګډوډونکو په برابر کې هغسې بې رحم و لکه نیکه چې یې و. د هغو د له مینځ نه وړلو لپاره یې سم له لاسه د اعدام حکم ورکاوه، بې له دې چې د اعدام پایلې په نظر کې ونیسي» (۱۳۲ مخ ).

- ډاکتر صاحب کاکړ لیکي چې « په دغه ډول افغانانو د پاچا امان الله په مشرۍ په جنګ او سولې سره له انګریزانو نه خپله پوره خپلواکي له ۳۹ کلونو نه وروسته ترلاسه کړه. افغانستان د نړۍ پوره خپلواکه هیوادونو په قطار کې سر هسکی ودرید او افغانان سرلوړي شول او پاچا امان الله غازي وپیژندل شو او په نړۍ کې یې نوم وایست، خو د سرحد د پښتني قومونو په اړه اساسي څه ونه شول» (۲۵ مخ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بیا په یوه بل ځای کې لیکي چې «البته په دې کې شک نشته چې د افغانستان او د هند حکومت اړیکې د ختیځو پښتنو په سر کړکیچن و او احتمال لري، چې د هند د حکومت سرحدي مامورانو به د خپلو معاش خورو ملایانو له لارې د پاچا امان الله او ملکې ثریا پر ضد لمسونې کړې وي. که د غه لمسونې په رښتیا شوي وي، هغه به لمسونې وي، نه نظامي عمل» (۱۳۹ او ۱۴۰ مخونه).

کاکړ صاحب آفرین مو په داسې مهارت شه چې خلکو ته په شاتو کې زهر ورکوی !

**په تاریخ کې د سترې جعل کارۍ کوچنۍ بیلګې**

البته البته د کاکړ صاحب په کتاب کې ټول شیان هم تکراري ندي. په اوبو د نورو لاهو شوو ګلونو یو څو نمونو ته یې پاملرنه وکړی:

1. ډاکټر کاکر لیکي چې «امیر امان الله بیا زما دیوې باوري سرچینې په حواله د خپل بندي تره د وژنې سبب شو(۱۸ مخ). دلته د سردار نصرالله خان د مړینې د پیښې څخه تقریباً یوه پیړۍ وروسته هم کاکړ صاحب د خپلې باوري سر چینې د ښودلو جرئت نه کوي، او نه حاضریږي چې د هغې پیښې جریان او څرنګوالې وښایي. ولې کاکړ صاحب نه غواړي چې خلکو ته حقیقت څرګند شي؟
2. ډاکټر کاکړ په یوه بل ځای کې لیکي چې «امیر حبیب الله خان وروسته له دې چې (استاد خلیلي د پلار مستوفی الممالک د رپوټ په اساس د امان الله خان او د هغې د مور لخوا د ده د وژلو) په دغه توطیې ځان نور هم باوري کړ، پریکړه وکړه چې امان الله ووژني او مور یې طلاقه کړي، خو دوې چې د امیر د پریکړې نه خبر شول، نصرالله ته لاړل او په پښو کې یې ورغړیدل او په عذر او زارۍ یې ترینه و غوښتل، چې امیر ته یې شفاعت وکړي» (۱۲ او ۱۷ مخونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته کاکړ صاحب دوه بېلابېلې پېښې سره يوځاې کوي او د تاريخي حقايقو په بدلولو سره ځان خپل هدف ته رسوي، يا په بله ژبه، او به خړې او ماهيان نيسي . لومړۍ پېښه د مستوفی الممالک ميرزا محمد حسين خان لخوا امير ته د امان الله خان په هکله د رپوټونو ورکول وو. دا يو منل شوې حقيقت دئ چې مستوفی الممالک هغه تر سختې څارنې او تعقيب لاندې درلود ، او د امير او ځوې تر منځه د مناسباتو د خرابولو د پاره يې پر امير د دزو او په کابل کې د پټو خپرونو په شان هر حرکت پر هغه تپلو.

دوهمه کاملاً جلا پېښه د غازي امان الله خان د مور د طلاق گواښ وو، چې په څپېړه د امير حبيب الله خان د وهلو وروسته منځ ته راغلې او په رښتيا هم د نصر الله خان په منځگړتيا حل شوې وه. دا پېښه د چهلستون په قصر کې د امير حبيب الله خان د عياشۍ په هغه محفل کې منځ ته راغلې وه چې د امير خور، اخت السراج، ورته برابر کړې و. کله چې د امان الله خان مور، عليا حضرت دد غه محفل نه خبريږي، په چټکۍ سره ځان د چهلستون ماڼۍ ته رسوي، ناڅاپه قصر ته ننوځي، او ځان اخت السراج ته چې د امير څنگ ته ولاړه وي، رسوي او هغې ته يوه سخته څپېړه حواله کوي. خو اخت السراج ځان په چټکۍ سره شاته کوي او څپېړه د امير پرمخ وربرابريږي. د امير پر مخ د ملکې د څپېړې آواز ټول خلک اوري او ددغه ننداره په ليدو ټول حاضرين خاندي او وايي چې د امير د عيش محفل په غيش تبديل شو.

د تاريخي پېښو د متن څخه د خاص مقصد د پاره د ټاکل شوو جملاتو راويستل او هغه په بله بڼه خلکو ته رسول که د تاريخ بدلول او د شخصيت ترور نه وي، نو په څه نوم يې يادولې شو. دا چې امير حبيب الله خان د خپل ځوې امان الله خان د وژلو پريکړه کړې وه، هغه بله نوې خبره ده چې مونږ يې يوائې د کاکړ صاحب په کتاب کې لوستلې شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. کاکړ صاحب د محمد ولي خان دروازي او غازي امان الله خان د اړیکو په هکله، په خاصه توګه کله چې د اروپا سفر ته روانیدو، لیکي چې «دا هغه وخت و چې د حرب پر وزیر محمد ولي باندې پاچا خپل باور له لاسه ورکړې و او غوښتل یې له دغه وزارت نه یې لیرې کړي. هغه یې خپل نائب او د بهرنیو چارو وزیر کړ» (**۷۵** مخ). څه عجیبه استدلال او منطق! پاچا پر یوه کس بې اعتماده کیږي، او غواړي چې له صحنې یې وباسي، نو هغه د دولت په تر ټولو لوړې چوکۍ کښینوي او د سلطنت نیابت ورته ورکوي، هغه هم هغه وخت چې خپله شپږ میاشتې د هیواد نه بهر ځي.
4. کاکړ صاحب په یوه بل ځای کې د منشی علی احمد خان په حواله لیکي چې «په کابل کې یو شمیر کسان چې زده کړه یې کړې او په باندنیو هیوادونو کې ګرځیدلي وو، د محمد ولي په ګوند کې په پټه ننوتل او د افغان جمهوریت جوړولو په امکاناتو باندې یې په پټه بحثونه کول. په هغو کې دغه کسان وو: غلام صدیق څرخي، عبدالهادي داوي، حبیب الله خان (د حرب وزیر مرستیال)، عبدالرحمن خان لودین، علي محمد خان، میرزا محمد خان، میرقاسم خان، ځیني نظامي افسران او ځینې غیر مهم کسان لکه میر غلام محمد (غبار) او نور. شجاع الدوله خان او محمد یعقوب خان د دربار وزیر هم په دغه ګوند کې وو» (**۵۴** او **۵۵** مخونه).

دا کسان چې کاکړ صاحب یې نومونه یادوي، مشروطه غوښتونکي او د غازي امان الله خان نیږدې ملګري او پلویان وو. کاکړ صاحب بیا هم د انګریزي تبلیغاتو په مرسته ددغو انګریز دښمنو عناصرو د شخصیت ترور ته لستوڼي رانغاړي، او غواړي چې بیا هم د عامه ذهنیت د بدلون دپاره تور سپین او سپین تور معرفي کوي.

ښه به دا وي چې په دې هکله خپله د اروابناد غلام محمد غبار نه واورو چې د نقابدار ګوند تر سر لیک لاندې په دې هکله څه لیکي: « د وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرستو روشنفکرانو په منځ کې يوه ډله مرموزه عناصر د نقابدار او مصنوعي ګوند په بڼه ورننوتل. دغو نقابدارو شارلتانانو د هيواد په مرکز او ختيځ کې د خلکو د غولولو دپاره په دروغو «انقلابی» شعارونه ورکول او په ظاهره دجمهوريت پلويان وو، خو په حقيقت کې ديموکراسۍ، جمهوريت او ترقۍ سخت دښمنان وو، او د نورو دپاره يې خدمت کاوه، او وروسته بيا څرګنده شوه چې دوې يوائې د استبداد او ارتجاع د لاس آله او د نورومزدوران وو، ځکه يې د جمهوريت غوښتني تر عنوان لاندې د اماني رژيم پښې وهلې او په حقيقت کې يې د يوه ارتجاعی رژيم راتګ ته لاره پرانيستله .په داسې حال کې چې حقيقي ديموکراتان د زاړه فيوډالي نظام مخالفه وو، او د ارتجاع په وړاندې يې د اماني دولت د اصلاح او بقا پلويتوب کوو» ( افغانستان در مسير تاريخ، ۸۱۴ مخ، د ايران چاپ.

5. کاکړ صاحب بيا هم د هماغه انګريزي استخباراتو د ليکنې په مرسته د اماني دورې د وروستنۍ لويې جرګې يو داسې روايت رانقل کوي، چې لږ تر لږه ما چيرې هم لوستلې ندی. کاکړ صاحب ليکي چې غازی امان الله خان د لويې جرګې د بحث په ترځ کې خپل کنټرول له لاسه ورکړ او په لوړ آواز يې وويل چې «دا ټول ملي مصيبتونه د تاسو له لاسه دي، تاسې ملايان چې له دووسانو نه پرته نور څه نه يئ، زه به هغه څه نافذوم چې يې غواړم او زه به ستر پرېښودل ان د برچو په زور عملي کړم، نه په غوړه مالۍ سره. پوه شئ چې زه يو انقلابي پاچا يم» (۸۸ او ۸۹ مخونه). دا هغه په اصطلاح د نووحقايقو بيلګې دي چې يوائې يې د کاکړ صاحب په کتاب کې موندلې شئ.

6. د غازي امان الله خان په لاس پرته له محاکمې د زرهاوو انسانانو وژل کيدل، بيا هم پرته له اسنادو او شواهدو هغه بل تور دئ چې مخکې ورته هم لنډه اشاره وشوه او پدې ورځو کې د کاکړ صاحب له خولې زيات اوريدل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7. د کاکړ صاحب یوه بله څرګنده جعل کاري هم د همدې لویې جرګې په اړه د اروانباد غبار د افغانستان در مسیر تاریخ د لومړي ټوک د ۸۱۳ مخ په حواله یو روایت دئ. کاکړ صاحب لیکي چې « د همدغې موضوع په پای کې د کابل وکیل غلام محی الدین (انیس) چې په روسیې کې یې زده کړه کړې وه، ولاړ شو او پاچا یې په دې ډول وپوښته چې :«ستاسې اعلیحضرت فکرونه ډیر ښه دي، خو تاسې اعلیحضرت ولې د وزیرانو په چلونو سترګې پټې کړي دي؟" ده دغه پوښتنه په دغسې حال کې وکړه ، چې وزیران هم ناست وو. پاچا ځواب ورکړ، چې "ما څنګه سترګې پټې کړي دي؟" محی الدین بیا کړه چې "لس کاله کیږي چې تاسې اعلیحضرت د اداري چارو په اړه قانونونه او مقررۍ ایستلي دي . په زرګونو اعدام یا بندي شوي دي، خو یو وزیر هم محاکمه شوی نه دی . د وزیرانو په اند په خپله پاچا هغه د دغسې اعتراض کولو لپاره هڅولې و او که نه هغه ددې زړه نه لاره، چې په دغه ډول وګړیږي» (۸۹ او ۹۰ مخونه).

که د کاکړ صاحب پورتنې متن د هغه د سرچینې یعنی د غبار، چې په خپله د کابل وکیل او لویې جرګې کې حاضر وو، د کتاب د ۸۱۳ مخ د متن سره مقایسه کړو ، نو د هیواد د نامتو مؤرخ په تاریخ لیکنې او رسالت به پوه شو. د دغو دوو متنونو په مقایسې سره لیدل کیږي چې:

- کوم وکیل چې خبرې کړې وې، ښاغلې غلام محی الدین انیس (د انیس د جریدې مؤسس او د "بحران و نجات" د مسخه شوي کتاب مؤلف( نه دئ، بلکې غلام محی الدین آرتی، د هغه وخت یو مشهور مشروطه غوښتونکې وو. د حیرانتیا ځای دئ چې د افغانستان د معاصر تاریخ متخصص او استاد د دغه شخصیت د نوم سره پیژند ګلوي نه لري، او د هغه نوم یې په لوې لاس په انیس بدل کړې دئ. که فرض کړو چې کاکړ صاحب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند عبدالحی حبیبي مشهورکتاب، «جنبش مشروطیت در افغانستان» یا په افغانستان کې د مشروطیت غورځنګ، د ارواښاد حبیبي صاحب سره د حساسیت او حسادت له امله لوستلې نه وي، نو د فغانستان در مسیر تاریخ کتاب خو به یې حتماً لوستلې وي. آیا د هغه کتاب د دوهم ټوک په ۳۸ مخ کې یې د نادر شاه د دولت په هکله د افغانستان د خلکو د نظر تر سر خط لاندې لوستلې نه دي چې « د هغې ورځې په شپه چې د سپه سالار د پادشاهۍ اعلان وشو. د کابل د (جوانان افغان) د ډلې یو شمیر روشنفکرانو د لیکونکې د لاهورۍ دروازې په کور کې یوه حزبي ناسته جوړه او د نوي دولت په وړاندې یې د خپل دریځ د ټاکلو قضیه طرحه کړه . دا غونډه تر نیمې شپې اوږده شوه، د هغو له ډلې څخه غلام محی الدین خان آرتی وویل چې: د افغانستان مسئله دومره ساده نه ده لکه تاسې چې یې فکر کوئ. دهیواد د مقدراتو په ټاکنه کې یو پټ خارجي لاس لوی رول لوبوي. امانیه دولت د ښه نیت او انقلابي صبغې په درلودو سره، د لږې تجربې خاوند او مغروره وو، باندنیو لاسونو د کورنیو ایجنټانو په لاس بې لارې کړ او په خپلو لاسونو یې د هغه قبر وویست . آیا احمد علی خان لودین د بلدیې رئیس، علی احمد خان والی، شیر احمد خان د دولتی شورا رئیس، ګل احمد خان دضبط احوالاتو رئیس، میرزا محمد یعقوب خان کابلی، حسین افندی د ګمرک مدیر، علی محمد خان د سوداګرۍ وزیر، او په لسهاوو هندوستانیان، حتی د شیر احمد خان (تاجر) او نورو په شان بیسواده کسان څوک وو چې لس کاله د مارانو په شان د دولت په لستوڼو کې ولوبیدل؟ د انګریزانو دولت څنګه په افغانستان کې کورني مترقي پروګرامونه او په باندنیو چارو کې آزاد سیاست

(c) ketabton.com: The Digital Library

زغملې شو؟ آیا هغه بریتانوي هند ته دیوه تیره خنجر په شان متوجه قوي افغانستان لیدلی شو؟ د انګریزانو دولت لس کاله زیار وویست تر څو امانیه دولت او د هغې پروګرامونه له منځه یوسي. تر دې وروسته هغه د افغانستان له لورې ډاډه کیږي، او تاسې به په هیواد کې د یوه داسې مخربه پروګرام د پلي کیدو ننداره وکړئ چې د افغانستان (په تاریخ) کې به یې ساري لږ ولیدل شي .نو ځکه هر هغه ډله یا کس چې د نوي حکومت سره مرسته او ملګرتیا وکړي، داسې معنی به ولري لکه چې په جنایت کې یې ګډون کړې وي».

کاکړ صاحب تاسې به حتماً لوستلي وي چې د هغه مجلس ګډون کوونکي غړي د تاج محمد خان پغمانی، فیض محمد خان باروت ساز، عبدالرحمن خان لودین، او خپله غلام محی الدین خان آرتی په شان مشروطه غوښتونکي د استعمار مخالفه آزادی غوښتونکي د خانداني رژیم لخوا ووژل شول.

محمد نادرشاه په یوه پلمه عبدالرحمن خان لودین، چې د کابل د بلدیې رئیس وو، د دلکشا ماڼۍ ته وروغوښت او رسیدو سره سم یې پوځیانو ته امر وکړ چې په مردکیو یې وولي، او بیا یې مړې ورته په خره په شوربازار کې د هغې میرمنې ته واستوو. تاج محمد خان پغمانی هم پاچا وروغوښت او پوځیانو ته یې امر وکړ چې د شیرپور په غونډۍ کې یې په توپ وروتړي او ټوټې ټوټې یې کړي، چې دا کار تر سره شو. فیض محمد خان باروت ساز چې د خپلواکۍ د جشن په مراسمو کې یې یوه پینه له لاسه ورکړې وه، له یوې پښې په زولنو تړل شوې او د توپ په خوله کې ټوټې ټوټې شو. غلام محی الدین خان آرتی چې څو کاله وروسته له ترکیې څخه هند ته راستون شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پېښور په ښار کې په مرموزه توګه د يوه ناپېژندل شوي کس لخوا د ټوپک په ګوليو وويشتل شو ، او کله چې په روغتون کې له مرګه راستون شو ، نو بيا په هماغه روغتون کې ددوهم ځل دپاره تر بريد لاندې راغې او ووژل شو. کله چې ارواښاد غبار د استبدادي رژيم سره د نيغ په نيغه مبارزې دپاره له جرمني څخه کابل ته راستون شو، نو سمدلاسه زندان ته واستول شو چې اعدام شي، خو د نادر شاه په وژل کيدو سره له مرګه وژغورل شو او لس کاله يې ځنځيرونه، زندانونه او تبعيدونه وزغمل، ماشومان يې له ښوونځيو محروم او خپلوان يې له دولتي کارونو وويستل شول . دا ټولې وژنې، بنديتوبونه او فراريتوبونه پرته لو کومې محکمې، اسنادو د وړاندې کولو او شاهدانو د شهادته او حتی په مشخصه جرم د تورن کيدو تر سره شول.

- د ارواښاد غبار په متن کې، د کاکړ صاحب د نقل شوي متن په خلاف د ارواښاد محی الدين آرتي وينا داسې لولو چې «د کابل انتخابي نماينده غلام محی الدين خان آرتی، چې د دولت د جنګی مهماتو د اخيستلو دپاره يې شخصاً درې سوه زره روپۍ، منلې وې، چيغې کړې چې "اعليحضرته، ترڅو چې دا په فساد مشهور وزيران محاکمه او اعدام نه شي، په هيواد کې هيڅ ډول اصلاحات امکان نه لري ".
- د کاکړ صاحب دا وينا چې محی الدين بيا کړه چې "لس کاله کيږي چې تاسې اعليحضرت د اداري چارو په اړه قانونونه او مقررې ايستلي دي ، هيڅ د غبار په ليکنه کې نشته. بلکې دا د يوه بل مشروطه خواه، عبدالرحمن خان لودين،ده چې په يوې وروسته غونډې کې يې د کابل د استور په چمن کې د صدارت د دندې په اړوند کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خو شاید د کاکړ صاحب تر ټولو ستر دروغ او تهمت چې د افغانستان در مسیر تاریخ د لومړي ټوک د ۸۱۳ مخ په حواله یې غلام محی الدین خان آرتی پورې تړلې دئ، د اماني رژیم لخوا د زرهاوو کسانو وژل او بندي کول وي. کاکړ صاحب هماغه شان چې د انګریزانو د ایجنټ لیکنه پر منشي علي احمد خان ورتپي، د دغه سترو دروغو او تهمت مسئولیت هم د اروانباد غبار په غاړه اچوي.

واقعیتونه د تل دپاره پټ او پوښلي ساتل کیدای نه شي. د جناب پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ څخه د کابل پوهنتون د یوه سابقه داره استاد او هیواد د معاصر تاریخ د مؤرخ په توګه نه یوائې دا تمه کیږي چې تاریخي واقعیتونه لکه څنګه چې پیښ شوي دي، پرته له حب او بغض او روابطو، په پوره امانت داری سره تاریخ کې ضبط او ثبت کړي. دوې اوس باید پر خپل دغه ذکر شوي کتاب بیا له سره نوې کتنه وکړي، او یا هم لږ تر لږه د خپلې لیکنې د دفاع په برخه کې کره اسناد او مدارک وړاندې کړي، او که نه نو خپله به په تاریخ کې د یوه داسې تحریف کاره مؤرخ په توګه ثبت شي چې رښتیا او دروغ یې سره ورګډ کړي، تاریخي پیښو ته یې جعلي روایتونه جوړ کړي، او په تاریخ کې یې د دروغو د ثبتولو دپاره جعلي اسناد او سرچینې جوړې کړې دي.

**سرچینې**


1. د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ د ویاړ غونډې راپور، لر او بر ویب پاڼه www.larawbar.net/31617.html
2. پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ، «د پاچا امان الله واکمنی ته یوه نوې کتنه».

(c) ketabton.com: The Digital Library


3. د شیخ علي محبوب د فارسي څخه د تورن رابرت نوئل ګیرلینګ سکاټ ژباړل شوې، د انګریزانو استخباراتي رپوټ L/P&S/20/B289
4. ډاکټر عبدالرحمن زمانی، «بازنګری دورهٔ امانی و توطئه های انګلیس»
5. دانګریزي استخباراتو محرمانه اسناد ، د بریتانوي هندآرشیف، ۲۱۲ ایف شمیر دوسیه، ۱۹۳۰کال.
6. مجددی، فضل غنی (۱۹۹۷) ، ۳۰۰ و ۳۰۱ مخونه.
7. رشتیا ، سید قاسم (۱۳۷۸) ، ۳۸ مخ.
8. د شیخ علي محبوب د فارسي څخه د تورن رابرت نوئل ګیرلینګ سکاټ ژباړل شوې، د انګریزانو استخباراتي رپوټ L/P&S/20/B289

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دافغان جرمن انلاین په ویب پاڼه کې د لوستونکو د تبصرو اونظریاتو یوه برخه

**له سویډن څخه محترم استاد سیستانی**

شخصیت وطن پرست و مدافع سرسخت حق و حقیقت و عدالت جناب فارانی صاحب گرامی عرض سلام و ادب خدمت شما !

از حسن استقبال تان نسبت به نقد عالمانه ورهنمود دهندۀ جناب داکتر زمانی برکتاب (دپاچا امان الله واکمنی ته یوه نوی کتنه) تالیف داکتر حسن کاکر ، سابق استاد پوهنتون کابل، ومقالۀ اینجانب در تائید آن نقد ، تشکر میکنم. خوشوقتم که شخصیتی آتشین قلمی مثل شما ، درمیان همکاران قلمی خود داریم که بدون تعصب، وبدون تمایلات سمتی ،زبانی و منطقه ای، همواره مثل یک سرباز دلیروطن، برمواضع دشمنان این کشوریورش می برد وبدخواهان تاریخ افتخارات این وطن را تار ومار و مجبور به فرار مینماید. تعداد انگشت شماری از قلمبدستان همکاراین پورتال،مثل قطعۀ سربازان آماده باش،همواره مترصد اند تا اگرکسی پا کج بگذارد که خطر شکستن شیشۀ ناموس وطن درمیان باشد خود را به محل حادثه میرسانند وجلو شکستن وبزمین خوردن شیشۀ ناموس وطن رامیگیرند ونمیگذارند که آبروی وطن برباد برود !

دیروزدوست گرانقدری از امریکا برایم زنگ زد وضمن صحبت پیرامون کتاب داکتر کاکر ونقد داکتر زمانی ، گفت: چند سال قبل در یکی از محافل دوستانه ، از داکترکاکربزبان پشتو پرسیدم که جناب داکترصاحب: علامه سید جمال الدین افغان که فخر افغانستان است،موسس افغانستان معاصر را بنام احمدشاه "بابا " نامیده است، ولی چرا شما همواره او را بنام احمدشاه "درانی " مینویسد وبه لقب "بابا " که مردم افغانستان از روی احترام به او داده اند ، یاد نمیکند؟ جواب داد که علامه سید جمال الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلاً یک ایرانی است ومن او را افغان نمیدانم ودر مورد کلمۀ "بابا " گفت بخاطر این در آخر نام احمد شاه، بابا نمی نویسم که به شهرت آفاقی من لطمه میزند ؟؟؟ دوست من افزود درحالی که در دلم به منطق داکترکاکر می خندیدم، گفتم اینه داکترتاریخ وطن ما که با چه منطقی از خود دفاع میکند ؟؟؟؟؟؟؟؟

**له امریکې څخه محترم مهرپور فیض ابادی**

چرا ما افغان ها در کوبیدن هم دیگر خود این قدر اشتیاق و عجله داریم ؟ داکتر صاحب زمانی یک کتاب داکتر کاکر را به نقد گرفت و داکتر کاکر هنوز جوابی نه نوشته است که حق اش در پاسخ به این نقد محفوظ است .بیایید این قدر صبر و حوصله داشته باشیم تا اول از هر دو جانب دعوی بشنویم و بعدا اظهار نظر کنیم. من و داکتر کاکر هر دو از استادان سابقه پوهنتون کابل استیم. تا ان جا که من از او شناخت دارم داکتر کاکر یک افغان وطن دوست و بی ریاست.من با قضاوت های ناقدان محترم در مورد شخصیت و یا سوء نیت او در نوشتن این کتاب موافق نیستم. ما انتظار می مانیم تا داکتر کاکر چی جوابی دارد و بعدش هم این ما و شما و این صفحات وبسایت افغان جرمن انلاین.

**د امریکې څخه محترمه میرمن ملالی موسی نظام**

توصیۀ مطالعۀ دو اثر از دو نویسندۀ خبرۀ افغان:

دوست و برادر معزز، عبدالله جان کاظم،

گرچه قسمتی ازین گفتنی را میخواستم عنوانی هموطنان محترم بیان دارم، بعد از مطالعۀ نظریات سودمند تان خوب است که توضیحی محترمانه برای هردو باشد. درین جای شکی نیست که مطبوعاتیانی که جای پای مستحکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

در مطبوعات کشور خویش افغانستان عزیز دارند، فعالیت شان بمنزلهٔ سنگی است که خود بالا انداخته و سر خویش را زیر آن گرفته باشند، چنانچه که از جانب خوانندگان گاهی همراهی و زمانی انتقاد هم می گردند که البته با تفاوت نظریات و مراعات حقوق حقهٔ تفکر و بیان به شیوهٔ اخلاقی، باید هم چنین باشد. ولی اگر هدف و اشتراک در مسائل مربوطه، با انتقاد سالم و آموزنده همراه باشد و کدام منظور آزار، توهین و تحریف رویداد های حقیقی افغانستان عزیز و انصراف از موضوع مورد بحث، منظور طرف مقابل نباشد، نه تنها مباحثات با مراعات اخلاق مطبوعاتی برگزار می گردد، بلکه بیشمار خوانندگان سایت های انترنیتی که مستحق خواندن نوشته ها در چوکات ادب و استدلال منطقی میباشند، از آن فیض برده و خسته، سرگردان و دلگیر نمی گردند.

طوریکه خوانندگان این پورتال جهانی شاهد هستند، بعد از مباحثات و افشاء گریهای تاریخی در مورد«حبیب الله کلکانی» و ارائهٔ نظریات گوناگون، موضوع سوال بر انگیز قتل یا خودکشی مرحوم«محمد هاشم میوندوال» منحیث یکی از شخصیت های سیاسی افغانستان در پورتال، مطرح شد. متأسفانه همانطوریکه دیدیم در همین زمینه اشخاصی که از آزادی بیان صرف آنلاین نمودن حروف و جملات پراگنده ای را برای توهین به اشخاص، مکدر ساختن اذهان خوانندگان و مخصوصاً دور ساختن شان از موضوع مورد بحث، در پلان داشتند قدم پیش گذاشتند، طوریکه واقع نشد که استثناً حتی سطری را با موجودیت«استناد» و اشاره بیک ورق روشنی از تاریخ و استدلال منطقی که حق خوانندگان بود، جمع بندی نمایند.

دیروز که نوشتهٔ شما را در مورد اظهارات نسبی شهود عینی«که ما و شما در جریانات مهمی بوده اییم» و دقیقاً استناد مؤرخین، محققین و صاحب نظران بیطرف و منطقی، از برکت انکشاف مطبوعات، در مورد تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نگاری، مطالعه نمودم، باز هم امیدوار گردیدم که این کاروان پرکار رسیدن به حقایق تاریخ مردم افغانستان، همچنان به جانب منزل مقصود در حرکت می باشد. در مورد موضوعات مورد بحث اخیر، آنچه تا را ایندم یافته ایم، اگر برای سهولت افهام و تفهیم فقط به محتویات هر دو اثر افشاگرانه ایکه الحمدلله نویسندگان شان حیات دارند، مراجعه نماییم، نه تنها به سطور تاریخی که به یک ملت تعلق دارد و مطالعۀ آن وظیفۀ هموطنان شمرده میشود دسترسی حاصل میگردد. بلکه خوانندگان را هم از تحمل مطالعۀ سفسطه سرایی های ضد و نقیض نجات میدهیم؟ این دو کتاب دقیقاً پربار و قابل تعمق همانا یکی اثر شخص تان« زنان افغان زیر فشار عنعنه و تجدد» میباشد. همانطور که برای خودتان هم ابراز داشته ام، بعد از دریافت آن منحیث تحفۀ ارزشمندی از شما، بدون اغراق در دست راست من دایم منحیث ریفرینس معتبری، مورد استفاده قرار میگیرد. در همین معضلۀ مباحثات بدون استناد آقای عبدالله از کلیفورنیا درین پورتال، خوشبختانه موارد استعمال این اثر به اوج خود رسید. کاش شخص صاحب صلاحیتی برسبیل خیرخواهی، محتویات قسمت هایی از تاریخ وابسته به این اثر نهایت«مستند» را که زحمات سالها تحقیق تان را در خود ذخیره نموده، اقلاً در مورد حقایق مبرهن جمهوریت داود خان، برای همین آقای عبدالله از کلیفورنیا بخواند.

اثر دومی ایرا که من طالب العلم بازهم افتخار تحفه ای بی بدیل ازمؤلف و محقق نهایت دانشمند آن محترم «داکتر عبدالرحمن زمانی» را داشته ام، همانا کتاب بسیار مستند و آموزندۀ«بازنگری دورۀ امانی و توطئه های انگلیس» میباشد. تاریخ افغانستان حق یک فامیل، یک سفسطه سرا و یک قوم نیست، اوج و حضیض رویداد های آن متعلق به همه ملت افغان است. یکی از دلائلی که اینقلم با مغرضان و آنانیکه پلان تحریف واقعات تاریخ مملکت را دارند، طرف واقع میشوم، دقیقاً بعد از مطالعات چنین آثاری است که با موجودیت آنهمه اسناد، شواهد و ریفرنس هایی میباشد که

(c) ketabton.com: The Digital Library

محقق و مؤرخ سال های آزگار برای من و شما با استدلال و استناد فراهم نموده است. بعد از مطالعهٔ تألیف با ارزش محترم داکتر زمانی، اعتراف مینمایم که این هیچمدان از نگاه «استناد» و ارائهٔ معلومات معتبر در تاریخ افغانستان که تا حدود دسترسی به اسناد مشهود و معتبر آرشیف هند برتانوی آنزمان هم پیش میرود ، چنین یک اثرآموزنده ، ارزشمند و غیر قابل انکاری را که جهانی معلومات تاریخی «غیر قابل انکار» را به ملت شریف افغانستان پیشکش مینماید ، ندیده بودم. خوب است که به عوض ضد و نقیض گویی هایی که تاریخ را مسخره نموده و به بازی می گیرد ، اوراقی ازین گنجینهٔ رویداد های همان عصر فشرده را بیطرفانه و با خلوص نیت مطالعه نماییم. البته بعد از خواندن، اگر انتقاداتی داشتیم بدون اینکه به کاکا و مامای محقق و مؤرخ توهین نماییم، با شهامت و استدلال برای خود احترام و برای مؤلف معلومات آفاقی «مستند» تقدیم نماییم. البته درین اثر آنانیکه در مورد حقایق تاریخ نادرشاهی هم علاقمند هستند ، با دلایل و استناد آزادانه پا پیش گزارند.

علت پیشکش آثار شما دو محقق و دانشمند پرکار به منتقدین رویداد های عصر نادر شاهی و داود شاهی، اینست که چون هردو از نعمت حیات مستفید هستید و آثار تان دقیقاً با مراجعه و تحقیق بیشمار مراجع و منابع مستند مزین گردیده است. اطمینان داریم که شما و دانشمندان دیگرافغان چون مؤرخ و محقق پرکار محترم اعظم سیستانی و محترم داکتر عبدالرحمن زمانی با خدمات و زحمات متداوم تان در نزد مردم افغانستان از ارج و منزلت زیادی برخوردار هستید ، یقین که پلان روشنی اندازی بر حیات سه شخصیت مطرح و تاریخ ساز وطن که اثر تحقیقی آیندهٔ تان خواهد بود ، راه گشای نسل های بعدی و آنانیکه بدون تعصب تاریخ را برای تاریخ و ملت وابسته به آن میدانند ، میگردد. به آرزوی مؤفقیت های بیشتر و من الله توفیق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د جرمني څخه محترم زلمی‌کرزی

سپاس فروان خدمت بزرگوار محترم ، تاریخ نویس توانا داکتر صاحب عبدالرحمن زمانی !

